# کوډې او فالونه، ټولنیزه او مذهبي څېړنه

## Social and religious analysis of the stereotypes and superstitions in the Pashtun Society

ډاکټر فیض الله خان پانیزی*

**Abstract:**
In this paper, the scholar strives to analyze the patterns that shape peculiar stereotypes, misconceptions, myths and superstitious rituals in the Pashtun culture. This paper unveils that the basis of the traditional life are stemmed in the rituals and irrationality especially when it comes the issue turn of power struggle. The paper traces back the genesis of these myths with its historical basis and also caters to its religious interpretation. The paper also carry out cross cultural analysis and finds the links of other cultures and societies to the Pashtun society and culture.

انسان چې په فکري لحاظ لاوده نهٔ وه کړې او د کائیناتي نظام او د فطرت د مظاهرو او علت و معلول په حقله ورته هیڅ معلومات نهٔ وو حاصل نو دا هرڅهٔ یې د ماورائي قوتونو یوه کرشمه ګڼله چې په نتیجه کښې به یې د دغه قوتونو عبادت کولو، دې نه پس یو بل دور هم شروع شو چې د جادو یا کوډو دور ورته وئیلی شي او دغه دور د قبل مسیح سره تعلق لري چې تر دې دمه پورې په مختلفو شکلونو کښې په هره ټولنه کښې وجود لري. علي عباس جلال پورې په خپل کتاب "*کائینات اور انسان*" کښې د کوډو په حقله لیکي:

"لفظ جادو کا معنٰی ہے چارہ گری، تدبیر، شعبہ، اثار خلاف عادات کیلئے نیرنگ عشق (عربی نیرنج) کا لفظ مستعمل ہے، یہ طلسم کا معنٰی ہے حیرت میں ڈالنے والی بات جادو کے منتر کو تدبیر یا افسوں کہا جاتا ہے، افسوں گر یا جادو گر کو عربی میں معزم اور مدبر کا نام دیا گیا ہے"(1).

په انسائیکلوپیډیا برټېنیکا کښې د کوډو تعریف داسې بیان شوی دی:

*"یہ وہ مذہبی عبادت یا عمل ہے جس کے بارے میں گمان کیا جاتا ہے کہ یہ بنی آدم یا قدرتی واقعات پر عام انسانی حلقہ سے ماوراء بیرونی پر اسرار قوتوں تک رسائی کے ذریعہ اثر انداز ہوتا ہے، یہ بہت سے مذہبی نظاموں کا مرکز ہے، متعدد غیر نوشتہ تہذیبوں میں بھی اس کا مرکزی معاشرتی کردار رہا ہے"(2).*

* Chairperson, Department of Pashto, UoB, Quetta

د کوډو که مونږ په اسانه ټکو کښې تعریف وکړو نو هغه داسې کېدی شي چې کله یو انسان خپل داخلي قوتونه په داسې انداز په خپل مکمل کنټرول کښې راولي چې د هغهٔ نه خلاف معمول او حیرانوونکې خبرې واقع شي، نو دې ته کوډې وئیلی شي.

په عربۍ ژبه کښې د کوډو دپاره د سحر یعني د سین په زبر سره راغلی دی د کوډګر ځنې ځانګړې کلیمې یا غوټې تړلو عمل یا د دې د دواوو یا هغو شیانو چې د هغو په سوب کوډې کیږي، دغسې په غوټو باندې ساه پوکلو ته کوډې وایي. کومې کوډې چې کوډګر په عامه توګه له پېریانو یا شیطانانو زده کوي، کوډګر هغه ته ویل کیږي چې خلق په جادو کښې راګېر کړي، کوډو ته کوډې ځکه ویل کیږي چې کوډګر دغه عمل په پټه توګه ترسره کوي.

امام ابن قرامه المقدسي وایي:

*"جادو وہ گرہ یا منتر یا کلام ہے جو پڑھا یا لکھا جاتا ہے یا کچھ دوسرے طریقوں سے عمل کیا جاتا ہے اور جو سحر زدہ شخص کے بدن یا اس کے دل یا دماغ پر بلاواسطہ اثر انداز ہوتا ہے"(3).*

امام راغب اصفهاني په خپل مشهور کتاب "مفردات القرآن فی غرائب القرآن" کښې د کوډو معنا په دې ټکو کښې بیانوي:

*"سحر کا اطلاق کئی معانی پر ہوتا ہے، اول: جو مہربان ہونے اور بکھرنے یا ریزہ ریزہ ہونے سے عبارت ہے، چنانچہ اس معنی میں کہا جاتا ہے، میں نے بچہ پر جادو کر دیا، یعنی اسے دھوکہ سے اپنی فطرت مائل کر دیا، ہر وہ شخص جو کسی چیز کو مائل کر لے اسے کہا جائے گا کہ اس نے جادو کر دیا، شعراء اس کا اطلاق جادو بھری آنکھوں (اور نگاہوں) پر بھی کرتے ہیں کیونکہ وہ نفوس کو مائل کرتی ہیں، اس کا اطلاق اطباء کے قول جادو گرانہ مزاج پر بھی ہوتا ہے اس کا یہ معنی اللہ عزوجل کے اس کلام میں بھی مذکور ہے: بل نحن قوم مسحورون"(4).*

د کوډو دغه معنا د پیغمبرﷺ په حدیث شریف کښې هم دغسې راغلې ده: ان من البیان لسحرا"(5).

ترجمه: بې شکه په ځنو خبرو کښې کوډې وي.

دویم: هغه قسم دی چې حقیقي شیانو له تخیل (خیال بندولو) سره تعلق لري چې په اردو ژبه کښې ورته شعبده یا نظربندي او یا د لاسونو صفائي ویل کیږي. ځکه خدای پاك دې ته اشاره کړې ده:

یخیل الیه من سحره انها تسعی"(6).

ترجمه: (د موسیٰ علیه السلام) په اړه د دوی د کوډو په وجه دا خیال وشو چې د دوی لکړې او رسیانې ماران جوړ شو او منډې یې وهلې.

او په سورة الاعراف کښې دي:

سحروا اعین الناس"(7).

ترجمه: د خلقو په نظرو باندې یې نظربندي یا کوډې وکړې.

په دغه معنا کښې هغوئ حضرت موسٰی علیه السلام کوډګر ګڼلی دی، په دغه ډول کوډو کښې کوډګر له یو خاص ډول غوټو څخه کار اخلي، د بېلګې په ډول هغه ډبرې چې اوسپنې خپلې خوا ته راکشوي، هغه ته مقناطیس ویل کیږي.

درېم:
درېم قسم هغه کوډې دي چې کوډګر یې د شیطانانو د نږدېکت په حاصلولو سره کوي.

## د کوډو تاریخي حېثیت:

د کوډو پیل کله؟ چا؟ او په کوم دور کښې وشو او په کوم ځای کښې وشو، په دې حقله هم لږ بحث په کار دی. کوډې یو باقاعده علم دی د دغه علم باقاعده اغاز د مصر نه شوی دی، د مصر په زاړهٔ مذهب کښې دې ته باقاعده د یو فن شکل ورکړی شوی ؤ بیا دغه فن یونانیانو خپل کړو چې وروسته یې په یورپ کښې هم غزونې وکړې او په مشرق کښې یې هم مقبولیت ترلاسه کړو او د یو سائنس حېثیت ئې اختیار کړو، د یونان په ابتدائي دور کښې دې ته د Herimatic Science نوم هم ورکړی شو. کوډې له پخوانیو زمانو څخه تر ننه پورې په هر دور کښې په هر ځای کښې په نظر راځي. تر دې حده چې د استرېلیا قبایلي خلق، د امریکې پخواني اوسېدونکي، د وسطي افریقې قبایل، د پخواني مصر، یونانیان، رومیان، بابل او د نینوا اوسېدونکي، او فرانسیسي، انډونېشیا، سري لنکا، چین، برما، افغانستان او جاپان اوسېدونکي په دې ټولو کښې له ډېرې زمانې راهیسې تر ننه پورې کوډې په یوهٔ نه یوهٔ شکل کښې ضرور موجودې وې.

اسلامي انسائیکلوپېډیا لیکي:

"یہ علم (جادو) ہر زمانہ میں ہر قوم کے افراد کے عقیدہ میں داخل رہا ہے اور مختلف اشخاص ہر جگہ اس کا دعویٰ کرتے چلے آئے ہیں، قدیم مصر کے پجاری اس دعویٰ پر اپنی عبادت اور مذہب کی بنیاد رکھتے تھے، قدیم مصری، بابلی، ویدک اور دیگر روایتوں میں دیوتاؤں کی طاقت کا ذریعہ ہی کو خیال جاتا تھا، یورپ میں باوجود عیسائیت کی اشاعت کا جادو کا رواج برابر جاری رہا اور افریقہ میں اب تک ایسے ڈاکٹر موجود ہیں جو جادو کے علاج کا صرف دعویٰ ہی نہیں کرتے بلکہ ان کے دعوؤں کو حبشی لوگ عملاً تسلیم کرتے اور ان سے خائف رہتے ہیں" (8).

او په انسائیکلوپېډیا برټینیکا کښې دي:

"جملہ معروف مذہبی نظاموں کے تاریخی ارتقاء کے تمام مدارج میں جادو کسی نہ کسی شکل میں ان مذاہب کا ایک حصہ نظر آتا ہے، اگرچہ اس کو دی جانے والی اہمیت کا مرتبہ بے حد متفاوت ہے، قابل اعتماد ریکارڈ کی عدم موجودگی کے

باعث تدوین تاریخ سے قبل کے ادوار میں سحر کے متعلق معلومات بہت محدود بہت ناپید ہیں، دنیا کے ہر حصہ کے غاروں میں پائی جانے والی بیشتر تصاویر (پینٹنگز) یا پتھروں پر تراشیدہ یا کندہ تصاویر اور مجسموں کے متعلق یہ دعویٰ کیا جاتا ہے کہ ان میں سحر کی تصویر کشی کی گئی ہے لیکن یہ دعویٰ محض اٹکل اور قیاس آرائی سے عبارت ہے "(9).

وړاندې لیکي:

"یورپ کے عہد وسطیٰ اور بعد کے زمانوں میں جادو کی موجودگی کے متعلق تحریری ریکارڈ کا ایک بڑا انبار موجود ہے، یورپ کے جادو کی تاریخ کے تین اہم پہلو ہیں، جن میں سے بیشتر کو غیر مناسب طریقہ پر نامعقول اور ناکافی تفصیلات کے ساتھ بیان کیا گیا ہے "(10).

د کوډو تفصیلي بیان زیاتره د جزائر، بحر الکاهل او افریقې د ټولنې په قیصو باندې مشتمل دی، په مسلمانانو کښې تر اسلام له مخه د کوډو ثبوت او د هغو وجود موجود ؤ.

## د کوډو حقیقت د قران کریم په رڼا کښې

زمونږ د ټولنې زیاته برخه په کوډو او د هغو اثراتو باندې یقین لري او دا عقیده لري چې دغه کوډې د پېریانانو او شیطانانو له لوري کیږي. او دا هغه پېریان او شیطانان وي چې په مختلفو غیر شرعي خبرو، توهماتو او فضولیاتو کښې مبتلا وي. نو دا خبره ضروري ده چې دا مسئله د قرآني آیتونو په رڼا کښې وکتل شي چې دا معلومه شي چې کوډې یو حقیقت دی هسې فرضي قیصې او خیالي خبرې نهٔ دي. نو په سورة بقره کښې د خدای پاك ارشاد دی:

"واتبعوا ماتتلوا الشیاطین علی ملك سلیمٰن و ماکفر سلیمان ولکن الشیاطین کفروا یعلمون الناس السحر وما انزل علی الملکین ببابل هاروت و ماروت" الخ. (11)

ترجمه: (او دوی په هغو شیانو پسې وو کوم چې شیطانانو د سلیمان ؑ په حکومت کښې ویل، سلیمان خو کفر نهٔ ؤ کړی، بلکې دغه کفر د شیطانانو ؤ. هغو خلقو ته کوډې وربښلې، او په بابل کښې چې په دوو فرشتو هاروت او ماروت نازل شوي وو، هغو دوو هم تر هغه پورې چا ته کوډې نهٔ ښیلی چې تر څو به یې دا نهٔ ؤ ویل چې مونږ خو ازمائش یو ته کفر مه کوه، بیا خلقو دغه کوډې ځنې زده کولې....

دغسې د کوډو ذکر په مختلفو آیتونو کښې راغلی دی، چې ټول دلته ذکر کول هسې څېړنه له اوږدوالي سره مخامخ کوي. بس دومره د آیتونو په اړه ویلی شو چې د قرآن کریم وروستي دوه سورتونه له هغې قصې سره تعلق لري چې په پیغمبر ﷺ باندې کوډې شوې وې او پیغمبر ﷺ له ډېرې سختې ناجوړې سره مخامخ شو نو خدای پاك د پیغمبر ﷺ د علاج دپاره دغه دوه سورتونه نازل کړو

چې په دې سره د پېغمبرﷺ ناروغي له منځه ولاړه. او اوس ځنې هغه حديثونه ذکر کوو کوم چې د کوډو له وجوده سره تعلق لري.

په صحيح بخاري شريف کښې له حضرت ابوهريرهؓ څخه روايت موجود دی چې پېغمبرﷺ وويل:

"اجتنبو السبع الموبقات قالوا، يارسول الله وما هن؟ قال الشرك بالله، والسحر، وقتل النفس التی حرم الله الا بالحق و اکل الربا و اکل مال اليتيم والتولی يوم الزحف وقذف المحصنٰت المؤمنات الغافلات"(12).

ترجمه: له اوو داسې کارونو ځان وساتئ چې هغه څوك هلاك کوي، صحابوو پوښتنه وکړه چې هغه اووۀ کارونه کوم کوم دي؟ پېغمبرﷺ وويل: له خدای پاك سره شرك کول، کوډې کول، څوك په ناحقه قتل کول، سود اخستل، د يتيم مال خوړل، د جنګ په ورځ ځان مړول، او په پاکو او پاك لمنو ښځو باندې تهمت لګول.

په دغه حديث کښې پېغمبرﷺ له کوډو د ځان ساتلو حکم کړی دی او کوډې يې په لويه ګناه کښې شمېرلې دي او دغه حديث د دې خبرې دليل دی چې کوډې يو حقيقت دی، خالي خيالي خبرې نۀ دي.

په يو بل روايت کښې عبدالله بن عباسؓ روايت له پيغمبرﷺ څخه نقل کوي کوم روايت چې ابو داود په خپل سنن کښې بيان کړی دی، دی وايي چې پېغمبرﷺ وويل:

"من اقتبس علما من النجوم اقتبس شعبة من السحر زاد ما زاد"(13).

ترجمه: چا چې د ستوری علم زده کړ هغه د کوډو يوه برخه زده کړه، بيا چې هغه د ستورو په علم کښې څومره پرمخ ځي دومره به هغه د کوډو په علم کښې اضافه کوي.

په دغه حديث کښې پېغمبرﷺ د علم نجوم زده کول د کوډو زده کولو دپاره د يوې آلې په څېر ذکر کړی دی چې مسلمانان له علم نجوم او کوډو څخه ځان وساتي، او دا د دې خبرې دليل دی چې کوډې يو فن دی او دا په باقاعده توګه حاصل کېدی شي، او دغه خبره د خدای پاك له پورتني ارشاد څخه هم معلومېږي.

## فالونه او د هغو طريقې

فال کتل په پښتني ټولنه کښې نۀ بلکې په هره ټولنه کښې ځان ته يو بېل شکل لري. ځنې خلق فال دې ته وايي چې ورغوی وګوري او د ورغوي له لکيرو اندازه لګوي چې د دغه کس په باره کښې دغه خبره را روانه ده چې په ژوند کښې به د ښې برخې خاوند شي يا به د بدې برخې خاوند شي. دغسې فال په کتابونو هم کتل کيږي د مثال په ډول ډېر پښتانۀ د رحمان بابا په کتاب فال باسي يعني نابېره د منځ په صفحو کښې يوه صفحه خلاصه کړي که د هغې صفحې شعر په کومه موضوع ؤ دوئ وايي ستا قسمت به هم دغسې وي. ځنې پښتانۀ فال د ټېپ د پيتو اوربدلو په ټپو باندې باسي چې د

چا په واري کومه ټپه وويل شي نو دوئ وايي دا ستا قسمت دی. ځنې خلق بيا فال په طوطي باسي يعني شين طوطي ته په مخکښې ښېلا ښېل شيان کښېږدي يا لفافې بندې کړي په هره لفافه کښې ليکل شوې صفحه پرته وي چې کومه لفافه شين طوطي را پورته کړي په هغه کښې څۀ ليکلي وي نو دوئ وايي تا ته په ژوند کښې دا ضروري ده چې له دغې قصې سره به مخامخ کېږې. لکه د رحمان بابا په کتاب چې فالونه کتل کيږي دغسې په قرآني آيتونو باندې هم فالونه کتل کيږي او په حروف تهجي باندې هم فالونه کتل کيږي د مثال په ډول:

"یہ فالنامہ حروف تہجی کا نئے طرز پر بنایا گیاہے اور اس کو دو طریق پر منقسم کیاہے: طریقہ اول:

فالنامہ قرآن مجید سے اگر کسی مسئلے میں فرقان حمید سے فال دریافت کرنا منظور ہو تو چاہئے کہ اس کو صدق نیت سے پہلے سورہ الحمد شریف اور سورۃ اخلاص ہر ایک تین تین بار پڑھ کر قرآن شریف جہاں سے چاہیے کھولے پس وہاں سے سات اوراق الٹ کر اس صفحہ کے شروع سے سات سطریں گنے جو حروف ساتویں سطر کے سرے پر ہوں ان کو مندرجہ ذیل کی عبارتوں سے ملاحظہ کریں اور اس پر عمل کریں نہایت اچھاہے.

طریقہ دوم:

دائرہ فالنامہ سے جو کوئی رنجیدہ و پریشان اور سرگردان ہو کر فال حروف دیکھنا چاہیے تو اول باطہارت تین بار الحمد شریف اور سورہ اخلاص تین بار پڑھے اور ایک دفعہ درود شریف اور ایک دفعہ آیتہ الکرسی پڑھ کر آنکھیں بند کر کے انگشت شہادت مندرجہ ذیل دائرہ کے جس خانہ میں چاہے رکھے اور اس خانہ میں جو حروف ہوں اس کے موافق مرقوم تحت کی عبارتوں سے اپنا مطلب معلوم کریں"(14).

د فالنامې تصور په حقيقت شته چې مونږ يې له استخارې سره تشبيه ورکولی شو د استخارې په باره کښې خو باقاعده اسلامي فلسفه اجازت ورکوي خو دغه فالنامه هم چې په قرآني آيتونو يا مقدسو کتابونو وي په اصل کښې له استخارې سره تشبيه لري. د فالونو په اړه رائې چې:

"په ځنو پښتنو کښې پښتنې مېرمنې د دغه منګې اوبو ته ډېره عقيده لري او له همدې امله د خپل ټيکري پيڅکه په همدې اوبو لمدوي او بيا ګنډه (غوټه) ور اچوي. د دوئ داسې عقيده ده کله چې دا ګنډه خلاصه شي حتماً به يو وېښتهٔ په کښې پيدا شوی وي که دا وېښته سپين ؤ دا معنا لري چې د دې ښځې ژوند به اوږد وي او که وېښتهٔ تور ؤ نو دا معنا لري چې دغه ښځه به ګوندې په ځواني کښې مړه شي داسې چې وېښتان به يې لانۀ وي سپين شوي.

فالونه هر ډول مذهبي، اخلاقي، اجتماعي، انتقادي او ټوکي مطالب په خپله ارته لمن کښې را نغاړي"(15).

فالونه په مختلفو ډولونو کيږي يو دا چې ورغوي ګوري د هغو له لکيرو اندازه کوي، بل دا چې د شين طوطي په مرسته لفافې ګوري، لکه پورته چې يې مونږ ذکر وکړو خو يو ډول فالونه بيا داسې هم شته چې هغه له خبرو سره تعلق لري هغه فالونه بيا کله منظوم وي کله منثور، يعني فالونه داسې ټاکلي او معلوم اوزان نۀ لري. د اکثرو فالونو لومړۍ مصرعې لنډې وي وروستۍ مصرعې يې اوږدې وي لکه د غوټۍ خاورې په کتاب کښې يې مونږ نمونه کتلی شو:

"په دا غرۀ کښې ورېښم بوټۍ
د زوئ مور شې چې پر واچوې مخ پوټۍ

جار دي چاودې پښې :: يو من ايرې پکې
که ګل دی د منې :: په مکه دي حج قبول"(16)

"د هغو اولسي او امي عقيدو له مخې چې د کليو او بانډو په خلقو کښې رواج لري. دوئ فالونه د ژوند په بېلو بېلو برخو کښې په کار کړي دي او استعمالوي يې، دوئ په فالونو باندې د خپل ژوند د ارامتيا، خوشحالي، هستي، غم او خفګان څرګندونه کوي، فالونه دا ډول په دوئ کښې دود شوې دي کوم شی چې هغوئ ته په ژوند کښې ښۀ ثابت شوی دی د هغۀ ليدل يې ځان ته د نېك مرغۍ نېك فال بللی او ښۀ يې ګڼلی دی. کوم شی چې ورته بد ښکاره شوی دی هغه يې په بده منلی او کرکه (انګېرنه) يې ځنې کړې ده"(17).

دا چې دا فالونه د څۀ دپاره کتل کيږي نو په مجموعي توګه مونږ ويلی شو چې دغه يا هغه خلق ګوري چې په عشق کښې مبتلا وي يا داسې خلق چې وهم ورلوېدلی وي چې داسې نۀ وي چا يو څۀ زما په باره کښې کړي وي يا يې هغه څوك ګوري چې تر وار له مخه خپل قسمت معلومول غواړي. يا څوك له يوې بلې ستونزې سره مخامخ وي. په پورتنيو فالونو کښې څو ډوله فالونه دي خو دا ټول داسې نۀ دي چې د اسلامي تعليماتو په رڼا کښې له عملياتو سره څۀ نا څۀ تړون لري بلکې ځنې داسې دي چې د استخارې له عمل سره مماثلت لري.

## د فال شرعي حېثيت

فال هم د کوډو يو قسم دی، د فالونو عاملان د اوو ستورو لکه شمس، قمر، زحل، مشتري، مريخ، زهره او عطارد عبادت کوي او د هر ستوري دپاره يو خاص ډول لباس اغوندي، او په څو مخصوصو ورځو کښې روژې هم نيسي، او په مخصوصو ورځو کښې سرونه خرېيي او پرېمينځي،

بیا د سپوږمۍ په خوا نظر وکړي او سپوږمۍ ته مخاطب شي، دا ټول ځکه کوي چې د دوی د ګمان مطابق په دوی باندې د ستورو روحاني فیض پروت وي.

د پخوانیو نجومیانو دا حال ؤ چې کله به په دوی کښې د چا اولاد پیدا شو، نو د دوی به دا ګمان ؤ چې د دې ستورو په توسط د اولاد حالات معلومیږي. او مونږ په اوسني دور کښې په ډېرو ورځپاڼو او جریدو کښې وینو چې "نن ستاسې نصیب" یا د "تاسې او ستوري" تر سرلیك لاندې د نجومیانو له عملونو او د ژوند له ډېرو شعبو سره اړه لرونکو خلقو دپاره صلاح او مشورې چاپیږي، لکه دوی وایي چې له فلاني تاریخه تر فلاني تاریخه پورې د پیدا شوي اولاد دپاره برج سرطان انتخاب کوي، او له فلاني تاریخه تر فلاني تاریخه پورې د پیدا شوي اولاد دپاره د میزان یا عقرب برج مقرر شوی دی. په دې کښې بیا د هر ستوري خپل خصوصیات وي او هغه خصوصیات بیا دوی د هغه دور د پیدا شوي هلك دپاره مخصوص کوي. داچې په اسلام یا پښتني ټولنه کښې د فالونو څۀ حېثیت دی؟ په دې اړه لنډ تاثرات د څېړنې برخه ګرځوم.

## د قرآن په رڼا کښې د فالونو حقیقت:

ستوري په دې نیت کتل چې په دې سره د چا حال احوال معلومیږي، دا هیڅ حقیقت نۀ لري، یوازې د خدای پاك د قدرت او د مخلوق اندازه ځنې کېدی شي چې د خدای پاك په قدرت او عظمت دلالت کوي، او د خدای پاك پاکوالی بیانوي، د خدای پاك دپاره سجده کوي او د هغه د امر پابندي کوي، لکه چې خدای پاك فرمائي: "الم تر ان الله یسجد له من فی السمٰوٰت ومن فی الارض والشمس والقمر والنجوم والجبال والشجر والدواب و کثیر من الناس"(18).

ترجمه: ایا تاسې نۀ ګورئ چې په تحقیق د خدای پاك دپاره هر هغه شی سجده کوي کوم چې په زمکه او اسمانو کښې دي، دغسې لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه، ونې، حیوانان او ډېر له خلقو څخه.

یو بل ځای خدای پاك وایي:

و سخرلکم الشمس والقمر دائبین و سخر لکم اللیل والنهار"(19).

ترجمه: او هغه خدای پاك ستاسو دپاره لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي چې یو مخ دي ګرځي او دغسې ورځ او شپه یې هم ستاسو په کار کښې لګولي دي.

خدای پاك په قرآن کریم کښې دا خبر راکړی دی چې لمر او سپوږمۍ د دنیا دپاره زینت دي، او په وچه او اوبو کښې د دوی په ذریعه لار معلومیږي او څۀ ستوري داسې شته چې هغه شیطانان ولي کوم چې له اسمانه خبر اخلي، او دا هغه ستوري دي چې پرته له پورتنیو ستورو دي. خو په دې ټولو باندې د ستورو اطلاق کېدی شي، لکه د "دابه" توري په ډول چې د انسان او حیوان دواړو دپاره په کاریږي.

## د فالونو حقیقت د حدیث په رڼا کښې

د حدیثو په ذخیره کښې د فالونو کوم حېثیت دی؟ په دغه سلسله کښې مونږ د څو حدیثونه ذکر کوو، په صحیح بخاري او صحیح مسلم کښې له زید بن خالدؓ روایت دی دی وایي چې پېغمبرﷺ د حدیبیه په مقام چې د باران دپاره یې خطبه ویله وویل:

"آیا تاسې خبر یاست چې ستاسو خدای پاك نن شپه څۀ ویلي دي؟. صحابه کرامو جواب ورکړ چې دا خو خدای او د هغۀ رسول ته معلومه ده، پیغمبرﷺ وویل:

"اصبح من عبادی مومن بی و کافر فاما من قال مطرنا لفضل الله و رحمته وذاك مومن بی و کافر بالکوکب"(20).

ترجمه: خدای پاك وایي چې سهار وخت زما ډېر بندګان مومنان او ډېر کافران وي، یعني کوم چا چې دا وویل چې په مونږ باندې د خدای له فضل څخه رحمت وشو، نو دغه بندګان په ما باندې یقین لري، او څوك چې دا وایي چې له ستورو باران کیږي دغه کس کافر دی.

یو بل حدیث له ابوهریرهؓ څخه روایت دی چې نبيﷺ وویل:

ما انزل الله من السماء من برکة الا اصبح فریق من الناس بها کافرین ینزل الله الغیث فیقولون الکوکب کذا و کذا"(21).

ژباړه: خدای پاك چې له اسمانه کوم برکات نازلوي د دې له وجې د خلقو یوه ټولۍ کافر کیږي، ځکه چې خدای پاك باران وروي نو خلق وایي چې د فلاني یا فلاني ستوري له کبله باران وشو.

دغه نجومیان هم په اټکل کار کوي خو د دوی خبره کله له حقیقته سره سمه وخیزي او کله کله دروغ شي، د بېلګې په ډول چې یو سړی ووایي چې د ګرمیو په ورځ کښې که لمر زما په سر راشي ځکه ګرمي سختیږي. له دې تاسو دا هم معلومولی شئ چې انګور وچ شو نو کشمش بیا ځنې جوړیږي، که څۀ هم داسې ډېر کیږي خو فقط د لمر له وجوده داسې نتیجه اخذ کول ډېر لوی جهالت دی. بلکې تر دې حده پورې ویل شوي دي چې که تۀ د نجومیانو د خبرې خلاف فیصله وکړې یعني د سعادت پر ځای بد بختي یا نحوست ومنې، یا د تاودۀ له وجې سوړ یا د ساړۀ له وجې تود شی ومنې نو دا به ډېر ناجائز عمل وي ځکه چې د هر یوۀ خپل حېثیت او کیفیت دی. ځکه خو حضرت علي کرم الله وجهه له خوارجو سره د جګړې کولو دپاره سفر کول غوښت نو یو نجومي ورته راغلو او ورته یې وویل:

*"اے امیر المؤمنین! آپؓ سفر نہ کریں، کیونکہ چاند برج عقرب میں ہے اگر چاند کے برج عقرب میں ہونے کے وقت آپؓ سفر کریں گے تو آپؓ کے ساتھی شکست کھا جائے گا یا اسی طرح کی کوئی بات کہی، اس کے جواب میں حضرت علیؓ نے فرمایا بلکہ میں اللہ پر بھروسہ اور توکل کرتے ہوئے اور تیری تکذیب کرنے کیلئے سفر کرونگا"(22).*

نو حضرت علي کرم الله وجهه سفر وکړ او په دغه سفر کښې هغه په جګړه کښې بریالی شو او ډېر خوارج قتل کړل شو، نو له دې معلومیږي چې د چا دا عقیده وي چې له اووۀ ستورو څخه یو

ستوری د نېك بختۍ او نحوست ذمه دار دی، دا اعتقاد فاسد دی او که يې دغه عقیده وي چې خدای پاك پرته دغه ستوری مدبر او کارساز دی تو د داسې عقیدې لرلو کس کافر دی، او د دغې عقیدې په بنیاد ستوري را ننګول، یا یې عبادت کول، او یا ور نه کومك غوښتل دا هم د کفر او شرك عقیدې دي. نو له دې معلومېږي چې دغه فالونه چې د پښتنو یا نورو خلقو په ختمه کښې اخښل شوی وي دا د عقیدې په اعتبار هیڅ حقیقت نۀ لري. په دې لړ کښې مونږ د خوشحال بابا یو شعر هم پېش کولی شو چې د دغه غلطې عقیدې رد کوي، خوشحال بابا وایي:

دا نابودې تکیې ګوره د وګړي
چې په ستوري او په فال لري تکیه

اوس دغه کوډې او فالونه یوازې په پښتنې ټولنه کښې نۀ بلکې په نورو قامونو کښې هم وجود لري. کوډې په بېلو بېلو طریقو باندې کیږي، که څۀ هم زمونږ په ټولنه کښې کوډې شته خو د دې په حقله تر اوسه چا داسې لیکنې نۀ دي کړي کوم چې دوئ زمونږ ټولنې ته ضرورت لري.

د نن سبا په جدید دور کښې هم کوډې ښېخې زیاتې دي. کوډې په بېلا بېلو طریقو کښې خلق کوي، د کوډو ذکر په قرآن شریف کښې هم راغلی دی. ځنو خلق جادو ورته وایي او ځنې تعویزان، خو کوډې په هر شي کوي، که څۀ هم ځنې بې نومه او بې کتابه ملایان و هر چا ته وایي چې کوډې درباندې شوې دي خو تر ننه پورې هیڅا هم د کوډو د ماتېدلو هڅه نۀ ده کړې او که یې کړې ده هم په صحیح معنا یې کوډې نۀ دي ماتې کړې. خو د جادو تصور په اسلام کښې شته، کله چې د قرآن مجید وروستي دوه سورتونه نازل شو د هغۀ اسباب هم دغه ؤ چې په پېغمبرﷺ باندې جادو شوی ؤ او تر ډېرې سختې ناروغۍ لاندې شو خو وروسته په خوب کښې دوې ملایکې ورته راغلې او په کوم ځای کښې چې د جادو عملیات ښخ شوي وو هغه یې ورته وښیل او پېغمبرﷺ چې دغه د جادو سپېنسیان را وکښل چې په کومو جادو شوی ؤ او غوټې ورکړل شوې وې، نو پېغمبرﷺ هغه غوټې خلاصولې او د دغه سورتو ایتونه ویل نو هغه کوډې او جادو له منځه ولاړل. یعني په اسلام کښې د جادو او کوډو تصور شته خو دا چې نن سبا هر څوك کوډې کوي او د ماتولو دپاره یې داسې څوك نۀ شته چې په صحیح توګه یې ماتې کړي نو تر ډېره حده باید چې په نن سبا کښې په کوډو باندې زیات عقیده څوك نۀ ولري. او بیا خصوصاً د داسې خلقو په خولۀ چې هغه په هره تړه ناست وي کوډې کوي او ماتوي یې هم. نو هغه د شاعر خبره ده چې:

فقیر دې ځان ته دعا وکړي
چې د کچکول پړي یې مات کړل اندامونه

په پښتني ټولنه کښې کوډو ته زياته توجه د نارينوو په نسبت ښځې ورکوي او په هر بې کتابه ملا ګرځي چې له چا سره يې نۀ لګيږي نو سمدستي ورباندې کوډې کوي، ځنې ښځې بيا په نږور کوډې کوي چې نږور يې له خولې نۀ اوړي او هره خبره يې مني او ځنې ښځې يې بيا په زوم کوي چې زوم يې له لور سره ډېر ښۀ کوي او د نور کور خيال نۀ ساتي. او ښځې دا کوډې ښکاره هم نۀ کوي پټې يې کوي، که چرې په کور کښې نږور يا زوئ د يوې ښځې ناجوړ شي نو ښځې وايي دا کوډې ورباندې شوې دي او خوابښې ورباندې کړې دي. دا ښځې بيا هر چا ته ورځي او ورته وايي چې زما په زوئ يا نږور کوډې شوې دي. نو دا بې کتابه ملايان يا کوډګر يا نور د دغه کاروبار خلق ورته وايي چې په دې کوډې شوې دي او کوډې هم ورته وايي چې په دوه قسمه دي. چې ځنې ډېرې خطرناکې دي چې په زعفرانو ليکل کيږي او ځنې بيا په وينو ليکل کيږي. دا هم خطرناکې دي. کله داسې هم وي چې په يو کور کښې د نجلۍ يا هلك د کوزدې دپاره مرکه نۀ راځي نو دوئ وايي په دغه کوډې شوې دي.

که کوډې څۀ اثر کوي که يې نۀ کوي خو پر خلقو باندې نفسياتي اثر خامخا اچوي او د خلقو وهم ځنې کيږي. که څۀ هم مېډيکل يا ځنې ډاکټران دا کوډې او جادو نۀ مني خو بيا هم دا شيان زمونږ د ټولنې برخه ګرځېدلي دي. او خلق عقيده ورته لري. ځنې ډاکټران وايي چې دا نفسياتي ناروغي ده چې د خلقو پر اعصابو باندې اثر کوي. يا يې خلق وېرولي دي يا ځنې ملايان غلط ورته وايي. د جادو ذکر په مذهبي حواله هر مذهب مني او د هر مذهب خلق کوډې کوي هم او ماتوي يې هم.

د کوډو په حقله مونږ چې کومه څېړنه وکړه د هغې په نتيجه کښې مونږ وئيلی شو چې دغه عمل د پېړيو راهسې را روان دی او په مختلفو ټولنو کښې يې خپل وجود قائم ساتلی دی، په پښتني ټولنه کښې هم دغه اوس هم وجود لري، د دې په شدت کښې هغه وخت کمی راتلی شي چې اولس باشعوره او تعليم يافته شي ځکه چې باشعوره او تعليم يافته ټولنه د داسې غېر انساني او غېر اخلاقي عمل چې زمونږ په کلچر کښې ئې هم غزونې کړې دي مخ نيوی کولی شي.

❁❁❁

# حوالې

(1) جلال پوری، علی عباس، کائینات اور انسان، تخلیقات لاهور، اگست 2004ء، ص53..

(2) انسائکلوپیډیا برټینیکا، آکسفورډ پریس، کراچی، 1996ء، جلد 7، ص671.

(3) محمد ابو عبدالله بن احمد بن محمد بن قدامة المقدسی، المغنی، مکتبه الریاض، ریاض سعودی عربیه، 1401ھ، بطابق 1974ء ص8.

(4) سورة الحجر، 15.

(5) ابو عبدالله، محمدبن اسماعیل البخاری، الجامع الصحیح، قدیمی کتب خانه، آرام باغ کراچی، 1991ء، ص166/2.

(6) سورة طٰهٰ، 66.

(7) سورة الاعراف، 116.

(8) امام راغب، اصفهانی، مفردات القرآن فی غرائب القرآن، (مترجم حبیب الرحمٰن) دارالاشاعت، کراچی، 2001ء 225/2.

(9) مولوی، محبوب عالم، اسلامی انسائیکلوپیډیا، الفیصل ناشران کتب، لاهور، 1992ء، ص577.

(10) انسائیکلوپیډیا برټینیکا، 25/ 89، 99.

(11) ایضاً

(12) سورة البقرة، آیت 102.

(12) الجامع الصحیح للبخاری، کتاب الوصایا، 2766.

(13) سلیمان ابن اشعث، سنن ابی داود، کتاب الطب، باب فی النجوم، قدیمی کتب خانه، آرام باغ کراچی، 1978ء، ص395.

(14) اجمیری، شیخ محمد حسین، سچا خواب نامہ، اسلامی کتب خانہ اردو بازار لاہور، س ن، صفحہ 285.

(15) خاورې، غوټۍ، د پښتو شفاهي ادبیات، د علومو اکېډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل، 1366ش، مخ19.

(16) ایضاً، مخ20.

(17) سوبمن، علي محمد، فولکوري ګېډۍ، پښتو ټولنه د پوهنې څانګه کابل، 1355ء، مخ57.

(18) سورة الحج، آیت18.

(19) سورة ابراهیم، آیت33.

(20) الجامع الصحیح للبخاری، 846، نیز مسلم بن حجاج القشیری، الجامع الصحیح المسلم، قدیمی کتب خانه، آرام باغ کراچی، 1998ء 71/2.

(21) ایضاً، 72.

(22) ایضاً، ص 71، 72.